# د تي تي پي خپلمنځي اختلافات په ډاکه شوي

د تي تي پي محسود او جماعت الاحرار ترمينځ اختلافات زيات شوي دي۔ له محسود ډلې سره د اختلافاتو له امله د جماعت الاحرار څلورو مهمو ترهګرو قوماندانانو قاضي صياد، مولانا حيدر، قومندان مهدي او قاري احتشام مچني له خپلو تش په نوم پوستونو استعفا کړې ده۔

**د وروستي د اختلافات وجوهات د عمر خالد خراساني پراسرار مرګ، د محسود ډلې په مهمو پوستونو قبضه، د منابعو غير منصفانه ويش، د جماعت الاحرار انتها پسند فکر او د پوليس لينز جمات کې ځانمرګى بريد دى۔**

دا اوس يو ښکاره حقيقت دى چې د تي تي پي مختلفې ډلې د ګټو د ټکر له امله په ګډوډۍ کې دي او مفتي نور ولي محسود نه متنفره دي او له تي تي پي څخه جلا کيږي او يقيناً دا د دې فتنې د ختميدو په لور يو مهم پرمختګ دى۔